**AFGHAN GERMAN ONLINE**
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

سلام خان ۲۰۱۲/۰۱/۲۶

# امریکابه له افغانستان سره اوږودمهاله ستراتیژیکې اړیکې ولري



د امریکا د متحده ایالاتو ولسمشر هر کال د «ولس د وضعیت» تر نامه لاندې د کانګرس غړو ته وینا کوي چې په هغه کې د یوه کال په جریان کی ټولې لاسته راوړنی او خپله راتلونکې تګلاره روښانه کوي، نوموړی سږ کال، خپله وینا په داسې وخت کې وکړه چې د امریکا د متحده ایالاتو د ولسمشری د ټاکنو کال دئ. د ټاکنو د مبارزې په درشل کې هغه خپله دغه وینا له خپلو بریالیتوبونو څخه پیل کړه،اوباما په لومړي سر کې خپلې بهرنی پالیسي ته په اشارې سره وویل چې کومې ژمنې چې تر ټاکنو مخکې کړې وې، هغه ئې عملي کړې دي، د یو پیاوړي دریځ په لرلو سره موږ په افغانستان کې د جګړې د پای ته رسولو اقدام وکړ، تر اوسه پورې مو لس زره سرتیري را ایستلي دي، او ۲۳۰۰۰ نور به د روان کال د دوبې تر نیمایي پورې را ووزي. افغان ځواکونو ته به د مسئولیت لیږد دوام وکړي، هغه زیاته کړې، چې په افغانستان کې افغان ځواکونو ته د مسوولیتونو د لیږد پروسه روانه ده او دوی غواړي، چې له افغانستان سره اوږودمهاله ستراتیژیکې اړیکې ولري، **ترڅو په راتلونکې کې افغانستان پر امریکا د بریدونو لامل ونه ګرځي..**

د امریکا ولسمشر بارک اوباما همدارنګه په خپله کلنی وینا کی ویلی دی، چې د القاعدې غړي د تیښتې په حال کې دي او په افغانستان کې د طالبانو زور مات شوی دی، هغه زیاته کړې، چې له پاکستان څخه نیولې تر یمن پورې د القاعدې غړي د تیښتې په حالت کې دي او هغوی اوس په دې پوه شوي، چې له امریکا څخه نه شي خلاصیدای، بارک اوباما ویلی دی، چې په عراق کې د جګړې له پای ته رسیدو وروسته امریکا ته دغه چانس په لاس ورغی، چې پر خپلو دښمنانو پرېکنده بریدونه ترسره کړي، د امریکا ولسمشر زیاتوي، چې له نهو کلونو وروسته په عراق کې جګړه پای ته رسیدلې، ټول امریکایي سرتیري له دغه هیواد څخه راستانه شوي دي.

اوباما وایي: ((په تېرو دوو لسیزو کې د لومړي ځل لپاره حالات داسې شوي، چې اسامه بن لادن د امریکا لپاره نور ګواښ نه دی، د هغه په وینا، د القاعدې ګڼ شمیر لوړ پوړي قوماندانان له ماتې سره مخ شوي او نور یې د تیښتې په حال کې دي، د طالبانو زور مات شوی او په افغانستان کې د میشتو امریکایي ځواکونو د بیرته ستنیدو لړۍ پیل شوې ده، هغه زیاته کړې، چې په افغانستان کې افغان ځواکونو ته د مسوولیتونو د لیږد پروسه روانه ده او دوی غواړي، چې له افغانستان سره اوږودمهاله ستراتیژیکې اړیکې ولري، ترڅو په راتلونکې کې افغانستان پر امریکا د بریدونو لامل ونه ګرځي، د امریکا ولسمشر بارک اوباما په دغې وینا کې، په داسې حال کې د افغان جګړې د پای ته رسولو خبرې کړې دي، چې په دې وروستیو کې د طالبانو او امریکا تر منځ د خبرو اترو راپورونه ورکړل شوي دي، ولی په کابل کې د امریکا سفیر په افغانستان کې د سولې د بهیر په اړه، ویلی دی چې تراوسه پورې د طالبانو د دفتر د پرانستلو په برخه کې هیڅ راز پرمختګ نه دی شوی، **د امریکا سفارت د سولې په اړه دا هم ویلي، چې د امریکا متحد ایالتونه او د افغانستان حکومت د سولې د یوې داسې پروسې ملاتړ کوي چې په نتیجه کې یې: طالبان او نور وسله وال مخالفین له القاعدې سره خپلې هر ډول اړیکې پرې کړي، تاوتریخوالی پریږدي، د ښځو او اقلیتونو د حقونو په ګډون د افغانستان اساسي قانون ته درناوی وکړي.**

ولسمشر بارک اوباما خپلې دې وینا کې د اسامه بن لادن او معمر قذافي وژل کیدل د خپلې بهرنې تګلارې د لاسته راوړنو په توګه یاد کړل او اشاره یې وکړه چې امریکایان هر څه ترلاسه کولای شي، که په ګډه ورته هڅه او هاند وکړي، اوباما پخپله وینا کي د ایرن په اړه وویل چې د تهران رژیم ته ئې دا اجازه ور نه کړه چې د اټومي وسلو خاوند شي، موږ به د دې کار د مخنیوي له پاره هر ډول اقدام وکړو. ولسمشر بارک اوباما کانګرس ته ته خپلې دې وینا کې له خپلو اروپایي متحدینو سره یوځای د ایران د تیلو پر واردلو او بانکي برخې بندیزونه د ایران د اټومي فعالیتونو د بندولو هڅه وګڼله او ټینګار یې وکړ چې د پوځي اقدام په ګډون ټول انتخابونه اوس هم په خپل حال دي، تر اوسه لا هم یو سوله ییز حل ممکن دئ. په دې شرط چې تهران پخپله تګلاره کښي بدلون راولي او خپل مکلفیتونه پر ځای کړي، **خو د ولسمشر بارک اوباما جمهوریت غوښتونکي سیلان داسې نه ګڼي او وایي ولسمشر بارک اوباما په ځینو موضوګانو لکه له ایران سره په چلند کې کمزوری دی. دوی زیاتوي چې ولسمشر اوباما نهٔ دی توانیدلی چې ایران له خپلو اټومي فعالیتونو څخه لاس په سر کیدو ته اړباسي.**

اوباما پخپله وینا کښي تر بهرنیو موضوعاتو وروسته کورني سیاست ته پام واړاوه. او هغه مسایل ئې راپورته کړل چې د ولسمشرۍ په انتخاباتو کښي اهمیت لري، لکه: عدالت، انصاف او ټولو وګړو ته د مساوي چانس برابرول، اوباما پخپله وینا کي په تکرار سره له شتمنو څخه د زیاتي مالیې غوښتلو غږ وکړ:«هر څوک چې په کال کي یو میلیون ډالر یا تر دې ډیر، باید ۳۰سلنه مالیه ورکړي،هغه د خپلو سیاسي مخالفینو هغه ادعاوي رد کړې چې ګویا دی په امریکا کي د یوه


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

سوسيالستي نظام د جوړولو په لټه کي دئ، که څه هم اوباما پخپله وينا کي د ولسشمرۍ له پاره د جمهوري غوښتونکو داوطلب ميت رومني چي يو ميليارډر دئ نوم وانه خيست، خو له وينا څخه ئې ټول په دې باندي پوه شول چي د هغه مقصد څوک دئ، رومني د امريکا د يو ډير شتمن سړي په توګه د کاله شل ميليونه ډالره عايد لري او يوازي ۱۴ فيصده ماليه ورکوي.

د امريکا ولسمشر ومنله چې په حکومت کې يې ځينې نيمګړتياوې شته چې په وينا يې اصلاحات غواړي خو ټينګار يې دا وو چې دا د ټولو ګډ مسووليت دی، خو د ولسمشر اوباما د څرګندونو برعکس جمهوريت غوښتونکي د ښاغلي اوباما اداره کمزروې ګڼي او وايي بهرنۍ او کورنۍ تګلارې يې هغسې نه دي چې بايد وي.

پای


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ